# پښتو شاعرۍ کښې د رباعي پېلات او روایت : یوه څېړنه

نوري غلام نوري[1]
ډاکټر بادشاه روم[2]

## Abstract

Abstract: The quatrain, a popular genre of ancient Pashto poetry, flourished as it made its way into Pashto literature through the influence of Arabic and Persian writings. Ancient poets of the Pashto language skillfully developed and embraced this poetic form, adding their own unique touch to its essence. However, over time, the once-thriving tradition of Pashto quatrains began to wane as poets gradually deviated from this esteemed genre. In contemporary times, the decline of quatrains in Pashto poetry has become apparent, indicating a shift in poetic preferences and themes. This article sheds light on the origins and rich tradition of the quatrain in Pashto literature while exploring the potential factors contributing to its fading prominence in the modern literary landscape.

دَ شاعرۍ په اصطلاح کښې رباعي يو داسې صنفِ سخن دے چې په هغې په يو خاص وزن کښې او په څلورو مصرعو کښې يو خيال ادا کولې شي ـ رباعي دَ عربۍ ژبې توری دے چې معنیٰ ئې څلور دي ـ ګويا رباعي هغه يو مختصر ترين صنفِ سخن دے چې په هغې کښې به مخصوص زن کښې وحدتِ خيال سره سره دَ بيان تسلسل هم ضروري ګڼل کېږي ـ اګر چې دَ رباعی نوم دَ عربۍ ژبې نه اختستل شوے دے خو دا خالص يو عجمي يعني غېر عربي صنفِ سخن دے او دا دَ ايرانيانو ايجاد دے ـ

اهل علم رباعي ته ترانه، دوهٔ بېتي او چاربېتي هم وائي ـ نور اللغات کښې دَ رباعی معنیٰ داسې ليکل شوې ده:

"وہ چار مصرعوں کی نظم جس کے پہلے دوسرے چوتھے مصرعوں کا ہم قافیہ ہونا لازم ہے۔رباعی بحر ہزج میں ہوتی ہے اور اس کے چوبیس اوزان ہیں"۔[1]

ژباړه: دَ څلورو مصرعو هغه نظم چې دَ چا اولنۍ، دويمې او څلورمې مصرعې هم قافيه کېدل لازم دي ـ رباعي په بحرِ نهرج کښې ليکل کېږي او دَ څلورېشت سېلابونو وي ـ

ډاکټر فرمان فتح پوري په خپلې مقالې "اردو رباعی، فنی و تاريخی ارتقاء" کښې دَ رباعی تعريف داسې کړے دے:

[1] پي ايچ ډي سکالر، پښتو څانګه ملاکنډ پوهنتون
[2] ايسوسي ايټ پروفېسر پښتو څانګه ملاکنډ پوهنتون

**"رباعی عربی کا لفظ ہے اور اس کے لغوی معنی چار چار ہیں۔ شاعرانہ مصطلحات میں رباعی اس صنف سخن کا نام ہے جس میں مخصوص وزن کے چار چار مصرعوں میں ایک خیال ادا کیا جاتا ہے۔ گویا رباعی اردو کی وہ مختصر ترین صنف سخن ہے جس میں مقررہ اوزان وحدت خیال او تسلسل بیان کی پابندی از بس ضروری ہے"۔[2]**

ژباړه: رباعي دَ عربی لفظ دے ـ دَدې لغوي معنیٰ څلور څلور دي ـ دَ شاعرۍ په اصطلاح کښې رباعي دَ يو داسې صنفِ سخن نوم دے چې په يو مخصوص وزن کښې او په څلورو مصرعو کښې يو خيال ادا کولے شي ـ ګويا رباعي دَ اردو ژبې هغه ورکوټے صنفِ سخن دے چې په کوم کښې دَ يو وزن ، دَ خيال وحدت او دَ خيال تسلسل ډېر ضروري وي ـ

لعل باچا ازمون خپله پي ايچ ډي مقاله "پښتو نظم پوهنه" کښې دَ رباعۍ تعريف څه دا شان کړے دے:

**"رباعي نوم دَ عربۍ له ربع څخه اخستل شوے چې معنیٰ ئې څلور ده ـ رباعي له دؤو بېتونو يا څلورو مصرعو څخه رغېدلے نوم دے چې په مطلع پېلېږي"ـ[3]**

مشتاق مجروح يوسفزي په خپل کتاب" زرکانړے" کښې دَ رباعۍ په باره کښې څه داسې ليکلي دي:

**"رباعي دَ عربۍ ټکے دے دَ ربع نه جوړ دے (ی) پکښې لښتي ده او لغوي معنیٰ ئې څلور ده ـ په ادبي اصطلاح کښې هغه شعري تخليق ته وئيلے شي چې څلور او دَ فکر خيال او مضمون په لحاظ پوره او دَ يو بل سره تړلے وي او په اخري مصرع کښې ئې دَ خيال تکميل شوے وي" ـ[4]**

دَ رباعۍ په باره کښې فضل مير خټک په خپل کتاب "فضليات" کښې داسې رقمطراز دے:

**"پښتو ادب کښې رباعي په دوۀ قسمه ده يو اولسي رباعي او بله عروضي ، اولسي رباعي زمونږ دَ اولسي ادب حصه ده خو دَدې څه داسې وجود نشته چې ئې ځان په بحېثيت يو صنف تشريح او وضاحت وکړو ځکه چې دا په اصل کښې غزل وي چې دَ پند و نصيحت نه ډک وي ـ دَ ښو اخلاقو په صفت لړلے وي دَ دنيا او دنيا دَ مال و متاع نه پکښې کرکه او دَ اخرت او عائيت پکښې مينه و محبت وي ـ چونکې دا خبرې رحمان بابا په غزلياتو کښې ډېر په وافر مقدار کښې وي ځکه دَ رحمان بابا غزلونو ته څوک غزلي نۀ وائي**

**رباعیاني ورته وائي کله چې مجلسیان دَ چاربیتې وغیره نه اول دَ رحمان بابا غزل وائي نو دوي ورته دَ رباعې نوم ورکوي نۀ چې غزل" ـ [5]**

دَ رباعی په باره کښې دَ فضل میر خټک دَدې تعریف سره مونږ اتفاق نۀ شو کولے ـ ځکه چې په اصطلاح کښې رباعي هغه شعري تخلیق دے چې څلور مصرعې لري او ټولې مصرعې ئې یو بل سره ترلې وي او یو مضمون بیانوي ـ غزل یو ځانګړے صنف دے چې ځان ته یو خپل هئیت لري ـ

فضل میر خټک وړاندې په خپله بیا دَ رباعی وضاحت داسې کوي:

"رباعي دَ ربع نه وتے دے چې معنیٰ ئې ده "څلور" دَ شاعری په اصطلاح کښې دَ څلورو مصرعو مجموعې ته وئیلے شي ـ چې دغه څلورمه مصرعه به ئې ارومرو هم قافیه وي ـ دَ رباعی اول درې مصرعې دَ دریو پوړو کار کوي چې هغه قاري بتدریج داسې پوړې ته وخېژوي چې هلته څلورمه مصرعه پخپله دَ قاري خلې ته راشي دَ خوشحال بابا یوه رباعي:

تور غرونه سپین کړي په سپینې واورې
په سبزه شنې کړي دا تورې خاورې
رنګ رنګ ګلونه، چمن ته ورکړي
باده دا تۀ ئې چې دا څه راوړې"[6]

دَ پښتو ادب یو بل پوهاند محمد اسماعیل یون په خپل کتاب "ادب تاریخ" کښې په رباعی څه داسې رڼا اچولې ده:

**"رباعی یا څلوریزه هغه ډول شعر دے چې له عربی ژبې څخه درې او پښتو ته راغلے دے ـ دا فورم څلور مصرعې لري چې دَ څپو دَ شمېر له مخې سره مساوي وي ـ له ځېنو رشتیائي حالاتو پرته چې په هغه کښې کېدے شي دَ درېمې صرعې یوه څپه ئې دَ قافیه والو مصرعو تر څلو زیاته وي نو نو اکثر، دَ څپو دَ شمېر له مخې سره مساوي وي ـ دَ رباعی لومړے بېت مقفي وي ـ درېمه مصرعه ئې قافیه نۀ لري او دَ څلورمې مصرعې قافیه ئې دَ مطلعې قافیه تعقبوي" ـ [7]**

په رباعی کښې یوه موضوع داسې بیان کېږي چې په اولنې دؤو مصرعو کښې موضوع راخستل کېږي ـ درېمه مصرعه ئې خاتمې په

توګه څلورمې مصرعې ته سپارې او په څلورمه مصرعه کښې تولـه موضوع راټولوې کېږي ـ رباعي دَ بحرِ هزج کښې ليکلې کېږي او دَ ځينې پوهانو په نظر کښې رباعي دَ "لاحولولاقوته الاباالله" په بحر کښې وئيل کېږي ـ

رباعي ته پښتو کښې څلوريزه وئيل کېږي ـ دَدې وزن يا سېلابونه څه دا شان وي چې دَ رباعي هرې مصرعې په مېنځ کښې دمه راځي ـ زياترې مصرعې ئې لس سېلابونه لري ـ دمه ئې په مېنځ کښې راځي ـ داسې رباعي هم شته چې يولس او دولس سېلابونه لري ـ هره مصرعه يوه دمه لري ـ اولنے رکن ئې بشپړ او دويم ئې نېمګړے وي

خپل اصطلاحي مفهوم او دَ جامعيت په لحاظ رباعي په ادب کښې يو نامتو او اهم مقام لري ـ رباعي دپاره چونکې يو بحر چې دَ بحرِ هزج په نوم مشهور دے مخصوص دے ـ

په رباعي کښې دَ بحرهزج څلورېشت اوازنو نه دَ يو وزن موجودګي لازمه ده ـ که چرې په بل بحر کښې څلوريزه وليکلې هم شي هغه ته مونږ رباعي نۀ شو وئيلې اګر که په هغه څلوريزه کښې قافيه او رديف موجود ولې نۀ وي ـ رباعي دَ فارسي نه اردو ته او دَ اردو نه پښتو راغلې ده ـ

دَ رباعي دَ فن علماؤ په نزد په رباعي دَ لږو الفاظو کښې کثېر المعاني دَ صنعت اطلاق کېږي ـ نو ځکه تر څو چې دَ موضوع په مطابقت سره موزون الفاظ او موزون اسلوب لاس ته نۀ وي راغلې تر هغې پورې ښه رباعي په وجود کښې نۀ شي راتلې ـ ځکه خو فني چوکاټ کښې دَ ژبې صحت، سلاست او رواني او بلاغت دَ رباعي دپاره ضروري عوامل ګڼل کېږي ـ دَ فن رباعي دَ ايران لرغونے پوهاند وائي چې رباعي بايد دَ قافيو موزونيت، دَ الفاظو خوږوالے، دَ معنوي لطافت، دَ تشبيهاتو او استعاراتو ندرت سره دَ لفظي محاسنو نه ډکه، دَ لفظونو بې ځايه تقديم و تاخيراو فحش ګوئي نه بالکل پاکه وي ـ دَ رباعي فن و لساني بنديزونه دَ ورکوټې تذکرې نه دا اندازه ښه په اسانه لګېدل کېږي چې تر څو يو شاعر دَ غېږ معمولي دَ بيان قدرت نۀ لري دَ دې مخصوص اوزانو او بحرونو سره بلد نۀ وي دَ هغۀ دَ رباعي وئيلو ذمه داري نۀ شي پوره کولې ـ

دَ ژبود بېلا بېل پوهاندو دَ رباعي بېلا بېل قسمونه بيان کړي دي اول به دَ رباعي څلور واړه مصرعې هم قافيه وي ـ روسته بيا دَ درېمې مصرعې قافيه خذف کړلې شوه نو دې ته به

ئې رباعي وئيله ـ په نورو لفظو کښې مونږ دا خبره دا شان هم کولې شو چې که چرې څلور واړه مصرعې هم قافيه وي نو داسې شاعرۍ ته رباعي غېر خصي وئيل کېږي او که څلور مصرعو کښې دريمه مصرعه هم قافيه نۀ وي نو دې ته رباعي خصي وئيل کېږي ـ

يو پوهاند قدر بلګرامي دَ خصي او غېر خصي رباعۍ په اړه ليکي چې:

**"هر کله چې دَ رباعۍ نوم دوهٔ بيتي کېښودل شو نو دَدغه اولنۍ درې مصرعې مطلع فرض کړلې شوې او وروپسې درې غېر مطلع ـ هم په دغه وجه دَ دوېم شعر اولې مصرعې نه ئې قافيه خذف کړه او څلور واړه مصرعو ته ئې دَ رباعۍ غېر خصي نوم ورکړو" ـ [8]**

## مستزاد رباعي:

مستزاد رباعۍ په باره کښې حکيم نجم الغني خان رام پوري ليکلي دي:

**"مستزاد رباعي داسې رباعي ته وئيل کېږي چې دَ کومې څلور واړه مصرعو سره يوه ورکوټې ټکره ولګول شي" ـ [9]**

## ترانه:

دَ رباعۍ اولنې نوم ترانه دے ـ دا نوم ايراني النسل دے ـ قدر بلګرامي دې باره کښې ليکي دي:

**"ترانه رباعي ته وئيل کېږي ـ ترانه توري دَ تر نه منسوب دے ـ کوم وخت چې دَ رود کښې رباعي مشهوره شوې وه هغه وخت به دَ دې رباعي په اوريدو به اوريدو والو ته جوش راتلو ـ نو رود کښې زاهدانو دَ خلقو مازغه وچ کړي دي نو په دغه سبب هغه خپلې ته "تر" سره نسبت ورکړو او ترانه نوم ئې کېښود"ـ[10]**

فضل مير ختک په خپل کتاب" فضليات" کښې دَ پښتو رباعۍ په باره کښې داسې ليکلي دي چې:

**"پښتو ادب کښې رباعي په دوهٔ قسمه ده يوه اولسي رباعي او بله عروضي اولسي رباعي زمونږ دَ اولسي ادب حصه ده خو دَدې څه داسې وجود نشته چې مونږ ئې څان ته بحېثيت يو صنف تشريح او وضاحت وکړو ځکه چې دا په اصل کښې غزل دے چې دَ پند و نصيحت نه ډک دے" ـ [11]**

خو دَ فضل میر خټک دَ رباعۍ په باره کښې لیکل شوے بیان سره اتفاق نۀ شي کېدے ځکه چې دے لیکوال هم په دغه کتاب کښې وړاندې لیکلي دي چې:

> **"رباعي دَ ربعه نه وتي ده چې معنیٰ ئې ده "څلور" دَ شاعرۍ په اصطلاح کښې دَ څلورو مصرعو مجموعې ته وئیلې شي چې دَدغه څلورو واړو مصرعو کښې یو خیال بندوي" ـ [12]**

دَ پښتو رباعۍ په حقله هم دغه خیال دَ فارغ بخاري او رضا همداني هم دے ـ دَ خپل کتاب "اٹک کے اس پار" کښې هغه دَ پښتو رباعۍ په حقله لیکي چې:

> ***"پشتو رباعی کا وہ مفہوم نہیں جو فارسی اردو رباعی سے مخصوص ہے۔ یعنی چار مصرعوں کا مخصوص وزن کا قطعہ جس کے پہلے دوسرے اور چوتھے مصرعے ہم قافیہ ہوتے ہیں۔ اس قسم کی صنف پشتو شاعری میں سرے سے ناپید ہے۔ گو بعض شاعرانوں نہ کچھ رباعیات اسی طرز پر لکھی ہیں۔ جو کتابی رباعیاں کہلاتی ہیں"۔ [13]***

> ژباړه: پښتو کښې دَ رباعۍ هغه مفهوم نۀ دے چې کوم په فارسۍ او اردو ژبو کښې مخصوص دے ـ یعني دَ څلورو مصرعو په یو خاص وزن کښې لیکلې شوې قطعه چې دَ کوم اولنۍ، دوېمې او څلورمې مصرعې هم قافیه وي ـ دا یو صنف په پښتو شاعرۍ کښې هډو شته نۀ ـ اګر که ځینې شاعرانو رباعیانې په داسې طرز لیکلې دي چې کوم ته کتابي رباعیانې وئیلې شي ـ

دَ پښتو رباعۍ په باره کښې لکه دَ فضل میر خټک دَ فارغ بخاري او رضا همداني نظریه یو شان دي ـ دواړو خیال دا دے چې پښتو رباعي او پښتو غزل کښې هیڅ فرق نشته، سوائې دي نۀ چې په پښتو غزل کښې عاشقانه مضامین بیان کولې شي او په رباعۍ کښې پند و نصیحت او دَ علم و حکمت خبرې کولې شي ـ خو فارغ بخاري او رضا همداني دَ پښتو رباعۍ او پښتو غزل کښې یو فرق بل بیانوي هغه دا چې پښتو غزل او دَ پښتو رباعي خپل خپل مخصوص دهن او لے کښې نغمه کولې شي یعني په دې دواړو کښې دَ مضامینو فرق نه علاوه دَ دهن او لے فرق هم شته ـ

دَ افغانستان یو نومړے لیکوال محمد اسماعیل یون په خپل کتاب " دَ ادب تاریخ" کښې دَ پښتو شعري ادب یو بل صنف ذکر کړے دے چې هغه ورته دَ "مقام" په نوم یاد کړے دے ـ دَ مقام په باره کښې هغه لیکي چې:

**" ځینې پښتانهٔ ئې رباعي هم بولي ـ پښتانهٔ ولسي مجلسیان ئې دَ مجلسونو په پېل کښې وائي ـ مقامونه پښتانهٔ ورو ، اوږده او په داسې تال او اهنګ وئیل کېږي ، چې ټول مجلس چوپ شي او پوره غوږ ئې نیولے وي، کله چې مقام خلاص شي نو سندرغاړے سم لاسي لوبه، چاربېته او یا بګټۍ یا غزل پېلوي چې اورېدونکي ئې سم له لاسه له هغه ارام او غلي حالت نه راوېښ او په شور او زور ئې راولي" ـ 14**

پښتو کښې دَ عروضي رباعۍ راتګ دَ فارسۍ دَ لارې شوے دے او ګڼو شاعرانو په دې مېدان کښې طبع ازمائي کړې ده ـ لکه څنګه چې رباعي په فارسۍ او اردو ادب کښې مشهوره ده ـ په پښتو ادب کښې هم رباعي یو ځانګړے مقام لري او په دې ادب کښې هم له پخوا پخه راروانه ده ـ

دَ پښتو لرغوني دیواني ادب کښې رباعي یو خاص جوړښت او ټاکلے وزن لري چې معمولاً ئې هره مصره لس سېلابونه لري خو بیا هم په دې قید کښې نهٔ ده پاتې او تر دې دې زیات او کم سېلابونو واله رباعیانې هم شته ـ په ځانګړي توګه په موجوده دور کښې له رباعۍ څخه دا قید بېخي لرې شوے دے ـ دَ پښتو ځینې ژب پوهاند دَ پښتو ژبې اولنۍ رباعي لیکونکے خلیل خان نیازي او سلطان بهلول لودي ګڼي چې په نهمه هجرۍ قمري کښې ئې ژوند کولو ـ خو لعل باچا ازمون په خپل کتاب "پښتو نظم پوهنه" کښې دا دعوٰۍ کړې ده چې په پښتو کښې لومړۍ پنځه څپیزه څلوریزه دَ شېخ اسماعیل دا لاندې ذکر شوې رباعي ده:

"که یون دے یون دے، مخکښې بېلتون دے
له کسي غره ښخه، چې خرشبون دے
که وروره وروره خرشبون وروره
ته چې بېلتون کړې زما ویر ته ګوره
چې ځي مرغی له توري کرغې له
همزولي پاته ځه برغي له
دَ خدا ے دپاره خرشبون یاره

چې هېړ مو نۀ کړې زمونږ کهـــول واړه
زړۀ مې ويلې يار مې بېلې
بېلتون ئې اور دے ځان پرې سوځېږي"[15]

دَ زنانۀ ؤ شاعرانو په باره کښې لعل باچا ازمون ليکي چې:

"په پښتنو ښځينه شاعرانو کښې رابعه دَ لومړی يا لرغونی دورې هغه شاعره ده چې يو څلوريزه ترې رپاتې ده:

ادم ئې مخکښې ، وته راستون کا
په زور دَ غم ئې ، سوے لړمون کا
دوزخ ئې دوغے کا، پر مخ دَ زمکې
نوم ئې دَ هغه، دلته بېلتون کا"[16]

لعل باچا ازمون خپل کتاب کښې دَ سلطان بهول لودهي او خليل خان نيازي يوه يوه څلوريزه هم نقل کړې ده چې دا ډول دي:

سلطان بهلول لودهي:

"ملک به زرغون کړم، په ورکړه راسه
ګوره اوسېږې ، دَ داد له پاسه
خول مې دَ عدل ، په درو روڼ دے
جهان به زيب مومي زما له لاسه"[17]

خليل خان نيازي:

"خړې وريځې ژاړي له پاسه
کويله ږغ کا، بېلتون له لاسه
په هغه لوني ګوهر په خول ستا
دا مرحبا که ستا، زمونږ مواسه"[18]

المختصر پښتو کښې دَ رباعی راتګ دَ فارسی دَ لارې شوے دے او ګڼو شاعرانو په دې ميدان کښې خپله طبع ازمائې کړې ده ـ

دَ پښتو اولني شاعر چې دَ چا رباعي تر اوسه محفوظې دي هغهٔ دَ خلیل نیازي او سلطان بهلول لودهي دي ـ چې په نهمه هجرى کښي وئیلي شوي دي ـ هغې نه پس خوشحال خان خټک دے چې دَ هغهٔ دَ شاعرى ډېره برخه په رباعیاتو مشتمله ده ـ دَ هغوي نه پس دَ عبدالقادر خان خټک، کامګار خان خټک، اشرف خان هجري، علي خان بابا، حمید بابا ، مصري خان ګګیانړے، کاظم خان شېدا او حمزه بابا هم ډېري ښې رباعیاني لیکلي دي ـ

دَ پښتو ژبې بېلا بېلو پوهانو او څېړنکارو دَ پښتو ژبې نامتو شاعرانو رباعیات راټول کړي دي ـ ارمغان خوشحال کښې سید رسول رسا دَ خوشحال بابا ۱۶۰۶ رباعیات راجمع کړې دي ـ دا ټول رباعیات ټول په یو وزن کښې نهٔ دي ـ هغه دَ رباعی دَ مخصوص بحر خیال نهٔ دے ساتلے او بېلا بېلو شاعرانو دَ رباعی مختلف بحرونه استعمال کړي دي ـ

دَ اشرف خان هجري دیوان چې تحقیق او ترتیب دَ همېش خلیل په لاس شوے دے ـ په دې دیوان کښې کل ۱۰۱ رباعیات دي ـ

"څوک چې هېر دَ یار نصیحت کا
زمانه وړاندې پرې ملامت کا
دَ خدائ رحمت په هغو باندې
که ډېر ضرور وي نظر به پست کا"[19]

دَ عبدالقادر خان خټک په یودیوان کښې کل ۲۳۶ رباعیات دي ـ دغه دیوان محقق او ترتیب پروفېسر جهانزیب نیاز کړے دے ـ پښتو اکېډمی پېښور په کال ۲۰۰۲ء کښې چاپ کړے دے ـ بل دیوان چې سید انوار الحق مرتب کړے په هغې د رباعیاتو شمېر ۲۳۳ دے

"دَ یار له غمه په زړهٔ افګار یم
له غم څه وایم دردمند خوار یم
په زړهٔ دردمند هر ګور بیمار یم
افګار یم خوار یم بیمار یم زار
یم"[20]

کاظم خان شیدا هم یو شمېر رباعیات لیکلي دي، چې د هغه په دیوان کښې موجود دي، دا یوه رباعي ئې ولولئ.

بهار د زړونو سرور پیدا کا
سېږونه ځکه شاو ګدا کا
اوښې ئې دروميې کله شبنم دي
ګلونه څه رنګ ډېره خندا کا[21]

دَ کامګار خان ختک دیوان مقدمه او شرح سید تسیم الحق کاکاخېل لیکلي دي – یونیورسټي بک ایجنسي پېښور چاپ کړے دے – په دې دیوان کښې کل ۹ رباعیات دي:

"تمام وجود مې دَ ګلو باغ دے
خال ئې دَ ورزو لکه تور داغ دے
چې دَ ګلونو وفائي نشته
دَ کامګار ځکه په زړهٔ داغ دے

دَ عبدالحمید بابا دیوان کښې صرف دوهٔ رباعیات دي:

"دَ خدا ے دپاره دَ دوت په روي دې وه
دَ وفادارو شکلیو په خوئي دې وه
چې یو ځل راشه تر ما حمیده
دَ رنځورانو په هاي او وهوي دې وه
"[22]

سعید ختک هم پخپل دیوان کښې د رباعي لیکلو روایت ته دوام بخښلي دے ، ده دوه سوه اووه شپېته رباعیات تخلیق کړي دي.

همه دروغ ونفاق ریا کا
وبله ئې خلق چې د دنیا کا
ذره د صدق و وفا تري مه غواړه
چې څه کا واړه د غل دغا کا"[23]

دَ مصري خان ګګیاني په خپل دیوان کښې ۱۴ رباعیات دي – چې یوه ئې څه داسې ده:

"دا اوه زمکـــــي اوه اســــــمانه
نــور چــي مکنــون دي لــه دي مکانــه
کۀ ئــي دَ عقــل پــه تلــه تــول کــړي
دا واړه ســپک دي خبــره گرانــه "[24]

ددغه زړو شاعرانو نه پس تر ماضي قريب پوري د پښتو رباعي ليکلو روايت دوام درلودو، چي شکاره مثال ئي مونږ سره د حمزه بابا رباعيات دي. ولي په نن دور کښي پښتو شاعران درباعي ليکني نه ډېره کوي. چي په نتيجه کښي ئي دا صنف د زوال سره دے.

---

[1] مولوی، نورالحسن، نیر کاکوری، نور اللغات، جلد سوم، جنرل پبلشنگ ہاؤس کراچی، نومبر ۱۹۵۹ء، ص ۵۲

[2] فرمان فتح پوری، ڈاکٹر، اردو رباعی، فنی و تاریخی ارتقاء، مکتبہ عالیہ لاہور، طبع دوم، ۱۹۸۲ء، ص ۲۰

[3] ازمون، لعل باچا، دَ پښتو نظم پوهنه، دَ علومو اکاډمي کابل پوهنتون، ۲۰۱۸ء مخ۵۵۱

[4] يوسفزے، مشتاق مجروح، زرکانے، يونيورسټي بک ايجنسي خيبر بازار پېښور، نومبر ۲۰۱۰ء، مخ ۱۳۷

[5] خټک، فضل مير، فضليات، حيات بک ډپو مين بازار کرک، ۱۹۹۹ء، مخ ۲۰۷

[6] همدغه اثر، مخ ۲۱۰

[7] يون، محمد اسماعيل، ادب تاريخ، دَ افغانستان ملي تحريک فرهنگي ځانگه، طبع اول، ۲۰۱۵ء، مخ ۴۹۱

[8] بلگرامي، قدر، سيد غلام حسيڼ، قواعد العروض ، اود، انديا مطلع شان، ۱۳۰۰ء ، مخ ۱۲۸

[9] رام پوري، حکيم نجم الغني خان، بحر الفصاحت، قومي کونسل برائے فروغ اردو دهلي، ۱۹۲۶ء، مخ ۱۱۵

[10] بلگرامي، قدر، سيد غلام حسيڼ، قواعد العروض ، اود، انديا مطلع شان، ۱۳۰۰ء ، مخ ۱۲۸

[11] خټک، فضل مير، فضليات، حيات بک ډپو مين بازار کرک، ۱۹۹۹ء ، مخ ۲۰۸

[12] همدغه اثر، مخ ۲۰۸

[13] فارغ بخاری، رضا ہمدانی، اٹک کے اس پار، گوشہ ادب لاہور، س س، ص ۳۶۰

[14] يون، محمد اسماعيل، ادب تاريخ، دَ افغانستان ملي تحريک فرهنگي ځانگه، ۲۰۱۵ء ، مخ ۴۴۶

[15] ازمون، لعل باچا، پښتو نظم پوهنه، دَ ختيځ خپرندويه ټولني تخنيکي ځانگه جلال آباد، ۱۳۹۸ ل، مخونه ۵۵۱-۵۵۲

[16] همدغه اثر، مخ ۵۵۲

---

[17] همدغه اثر، مخ ۵۵۲

[18] همدغه اثر، مخ ۵۵۲

[19] هجري ،اشرف خان، ديوان اشرف خان هجري، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، ۲۰۰۱ء ، ۳۷۶ مخ

[20] ختک، عبدالقادر خان، حديقه ختک، مرتبه سيد انوار الحق، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور ، د چاپ کال نه لري ، ۲۰۹ مخ

[21] شيدا ، کاظم خان، د کاظم خان شيدا ديوان، تدوين حنيف خليل، دانش خپرندويه ټولنه، ۲۰۰۵ ء ، ۳۴۱ مخ

[22] مومند، عبدالحميد، د عبدالحميد مومند کليات، مرتبه محمد اصف صميم، دانش خپروندیه تولنه، ۲۰۰۷ء، ۲۷۰ مخ

[23] ) سعيد ختک، ديوان د سعيد، مرتبه همېش خليل ، دانش خپرندويه پېښور ، ۲۰۱۲ ء۱۹۷

[24] ګګيانړے، مصري خان، دَ مصري خان ديوان، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، س ن، مخ ۱۸۴